# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې دویمه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۲٤مه | ٤۳۳مه ګڼه


# په هلمند کې وحشت او قتل عام؛

## د واده پر مراسمو هوايي برید پنځوسو ملکیانو ته مرګ ژوبله اړولې ده



۳

د ملکي وګړو وحشیانه وژنه، حکومتي دروغ او ولسي خوب
۲ مخ

د سپټمبر ۱۱مه؛ په افغانستان کې د نیابتي جګړې پیل
۲ مخ

په غونډو کې وینا کول
۵ مخ

## د امریکا سفارت: ټول نوماندان باید یوشان د کمېسیونونو کړنلاره عملي کړي

په کابل کې د امریکا سفارت ویلي، د ولسمشریزو ټاکنو ټول نوماندان دې په یو ډول د کمېسیونونو طرزالعملونه عملي کړي.

د امریکا سفارت په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د امنیت، برابرې زمینې او امکاناتو او درغلیو په اړه زیاتو شکایتونو ته په کتو، له ټولو نوماندانو غواړي، چې د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په کړنلاره عمل وکړي.

دغه سفارت زیاته کړې چې د ولسمشرۍ ټاکنو نوماندان باید د افغاستان دې ملي پروسې ته درناوی ولري.

یاد سفارت له ټاکنیزو کمېسیونو او امنیتي ادارو هم غوښتي چې په افغانستان کې داسې ټاکنو ته لاره هواره کړي چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي.

د امریکا سفارت دغه غوښتنه په داسې حال کې کوي، چې ټاکل شوې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې د راتلونکې شنبې په ورځ (د تلې په شپږمه) وشي.

په ورته وخت کې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون او پر ټاکنو څارونکو بنسټونو تر دې وړاندې ویلي وو چې ځینې نوماندان په ناقانونه توګه په کمپاینې غونډو کې له حکومتي امکاناتو ناوړه ګټه پورته کوي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون تازه ویلي چې له دوی سره تر ټولو زیات شکایتونه د ولسمشر غني په مشرۍ د دولت جوړوونکي ټیم او د اجرایه رییس عبدالله په مشرۍ د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم له خوا د یوبل پر وړاندې ثبت شوي دي چې تر څېړنو وروسته به قانوني چلند وکړي.

## روسیې، چین او ایران د طالبانو له دریځه ملاتړ کړی دی




٤ مخ


ځېره

۴ مخ


## مولانا جلال الدين



مولانا جلال الدين ته که د معنویاتو د نړۍ سکندر ووایو، شاید مبالغه به مو نه وي کړې؛ ځکه دی د نړۍ په څو هغو لویو شاعرانو او عارفانو کې حساب دی، چې له ختیځه تر لوېدیځه یې د زړونو او ذوقونو پر ځمکه راج چلیږي.

## د ۷۵ میلیونو ډالرو په ارزښت د بنوالی د ودې سکتوري پروژه پیل شوه



د میدان وردګو ولایت په ګډون، په یوولسو ولایتونو کې د ۷۵ میلیونو ډالرو په ارزښت د کرنې په برخه کې د بڼوالۍ څنځیروي ارزښت د ودې سکتوري پروژه رسماً په یاد ولایت کې پیل شوه.

د یادې پروژې د مسوولینو په خبره، دغه شپږ کلنه پروژه په دوو عمده برخو کې له کرنیزو سوداګرو او بزګرانو سره ۸۰ سلنه بلاعوضه مرسته کوي، چې په هغه کې د میوو پروسس، بڼوالي، بازار موندنه، بسته بندي، سړې خونې، زیربنایي پروژې، تولیدات، د میوو ذخیره کولو او په ټولو اړوندو برخو کې له بزګرانو او کرنیزو سوداګرو سره مرسته کول شامل دي.

د یادې پروژې مسوول ښاغلي رائد زیاته کړې: «د دغې پروژې اصلي موخې، انډولیز پرمختګ، ثبات، کاري موکې پیدا کول او په ځان بسیاینه ده».

## په کابل کې د چین د ولسي جمهوریت د جوړېدو ۷۰یمه کلیزه ونمانځل شوه



په افغانستان کې د چین لوی سفارت د چین د ولسي جمهوریت د جوړېدو ۷۰یمه کلیزه د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترځ کې ونمانځله.

دې غونډې ته د ملي دفاع سرپرست وزیر اسدالله خالد، د اجرایه ریاست لومړی مرستیال انجنیر محمد خان او ځینې نور لوړ پوړي افغان چارواکي ورغلي وو. د غونډې په پیل کې په افغانستان کې د چین سفارت شارژدافیر (وانګ دا شوې) په ۱۹۴۹ ز کال کې د چین د ولسي جمهوریت د جوړېدو په اړه خبرې وکړې او وروسته یې له ۱۹۵۵ ز کاله را پدېخوا د چین او افغانستان د سیاسي، فرهنګي او اقتصادي اړیکو په اړه معلومات ورکړل.

نوموړي وویل، هېواد یې په افغانستان کې د تلپاتې سولې غوښتونکی دی او غواړي چې په دغه هېواد کې اوسنۍ خونړۍ جګړه د خبرو له لارې پای ته ورسېږي. وانګ د چین او افغانستان تر منځ پر دوو اړخیزو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکو د ټینګار تر څنګ وویل چې هېواد به یې په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره خپلې مرستې جاري وساتي.

وروسته د اجرایه ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمدخان چینایانو ته د چین د ولسي جمهوریت د جوړېد د ۷۰یمې کلیزې د مبارکۍ ترڅنګ، د افغانستان په اړه د چین د ښه نیت او له دوه اړخیزې همکارۍ مننه وکړه. نوموړي چین د افغانستان ښه ګاونډی یاد کړ او هیله یې وښوده چې دې دواړو هېوادونو تر منځ سیاسي، فرهنګي او اقتصادي اړیکې دې نورې هم پیاوړې شي.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهوربیو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریــځ

### د ملکي وګړو وحشیانه وژنه، حکومتي دروغ او ولسي ځواب

د هلمند په موسی کلا کې د ګډو ځواکونو په هوایي برید کې تر ۴۰ د ډېرو ملکي وګړو د وژل کېدو خبرونه ورکړل شوي دي. که څه هم حکومت د وسله والو او آن د بهرنیو وسله والو د وژلو ادعا کوي، خو رسنیو ته د وژل شوو ماشومانو او نورو بېګناه وګړو تصویرونه او ویډیوګانې رسېدلي دي. ځایي خلک چې پرون یې په موسی کلا کې لاریون هم کړی و، وایي چې ټول وژل شوي ملکي وګړي دي او برید تر واده وړاندې د نکریزو د شپې لپاره پر را ټولو شوو خلکو شوی دی. حکومت د دغه برید په اړه متفاوتې ادعاوې وکړې. د ملي امنیت ریاست ادعا کړې ده چې په برید کې یې د القاعده پنځه بهرني جنګیالي وژلي دي، خو د هلمند د والي ویاند بیا پرون ویلي وو، چې د شپږو بهرنیانو په ګډون ۱۴ وسله وال وژل شوي دي. دفاع وزارت بیا بله ادعا کوي او وایي چې ۲۲ بهرني وسله وال مو وژلي او ۱۴ نور ژوندي نیول شوي دي.

په دې وروستیو کې د ګډو ځواکونو په هوایي بریدونو، بمباریو، شپنیو عملیاتو او چاپو کې په بې ساري ډول د ملکي وګړو مرګ ژوبله زیاته شوې ده. غني او ملګري یې چې په ټاکنیز موډ کې دي، د خلکو د راضي کولو لپاره د دغو وحشتونو د مخنیوي خبره کوي، خو د دوی له ژمنو سره سره، د افغان بېګناه وګړو، ښځو او ماشومانو عام وژنه روانه ده. دلته دوه بحثونه دي. لومړی دا چې ولسمشر غني او نور حکومتي مشران د دغو وحشتونو د مخنیوي اراده نه لري. دوی غواړي خلک همداسې ووژل شي، وحشت وشي، پر خلکو کورونه ور ونړول شي، ښځې او ماشومان په نیمه شپه کې په وحشت ووژل شي. دا چاره دوی په خپله ګټه ګڼي او ورته مهمه نه ده چې د دې خاورې ښځې او ماشومان په څومره وحشت سره وژل کېږي. دویم دا چې ښایي دوی د دغو بریدونو او وحشتونو د مخنیوي توان ونه لري. په افغانستان کې دغه ډول بریدونه او وحشتونه یا مخامخ امریکایان کوي او یا یې هم د سي ای اې هغه جنګیالي کوي، چې په ظاهره یې په افغان امنیتي ځواکونو پورې تړلي دي، خو د امنیتي ځواکونو برخه نه دي. په دواړو حالتونو کې ولسمشر او ملګري یې نه یوازې دا چې د دغو بریدونو په تړاو پړه دي، بلکې د جرم او جنایت شریکان دي او د خپلو خلکو پر وړاندې مسوول دي. که ولسمشر ته د خلکو ژوند مهم نه وي او دروغ وایي، وحشت او وژل یې خوښېږي، نو دا نه بښل کېدونکی جنایت دی او ولسمشر د دې خاورې او خلکو دښمن دی. که ولسمشر د دغو بریدونو مخنیوی نه شي کولی، خلکو ته دروغ وایي، بیا هم مسوول دی او باید حساب کتاب ورسره وشي. اوس هغه وخت دی چې حکومت، غني، عبدالله او نورو چارواکو ته کرښه را وکاږل شي، چې یا دې د دغو جنایتونو مخنیوی وکړي او یا به د جنایتونو شریک او مسوول ګڼل کېږي، خلک به د دښمن په سترګه ورته ګوري، حساب کتاب به ورسره کوي او دا خاوره به د جنایتکارانو او د هغوی له مزدورانو پاکوي.

# د سپټمبر ۱۱مه؛ په افغانستان کې د نیابتي جګړې پیل

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز / ژباړه: جواد تیموري

د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر په اوومه امریکایي ځواکونو د طالبانو د رژیم د سقوط او د القاعدې شبکې د پټنځایونو د له منځه وړلو لپاره په افغانستان کې پراخ پوځي عملیات پیل کړل، چې تر اوسه یې ناوړه پایلې پر ځای پاتې دي.

په تېرو ۱۸ کلونو کې د جګړې له کبله په لسګونو زره افغانان وژل شوي او لاهم هره ورځ لسګونه نور یې قرباني کېږي. په ۲۰۰۱ ز کال کې د طالبانو ماتې یوه موقتي ماتې وه، خو دغه ډله اوسمهال د پخوا په پرتله تر بل هر وخت ډېره پیاوړې شوې، جګړې د هېواد ټولو برخو ته غځېدلې او د افغانستان نږدې ۵۰ سلنه خاوره د دوی په کنټرول کې ده.

**د سپټمبر له ۱۱مې وروسته ولې په افغانستان کې جګړه بیا پیل شوه؟**

په افغانستان کې د شوروي اتحاد پر وړاندې په جهاد کې په زرګونو عرب جنګیالي هم د افغانانو ترڅنګ ودرېدل او د سرو لښکرو له ماتې وروسته، د برهان الدین رباني په مشرۍ د مجاهدینو حکومت دوی ته په افغانستان کې پناه او حتی ځینو ته یې تابعیت هم ورکړ. له مجاهدینو وروسته چې کله طالبان واک ته ورسېدل، د القاعده شبکې د مشر اسامه بن لادن په ګډون، په زرګونو عرب جنګیالي په افغانستان کې مېشت وو او دغه شبکه له ۱۹۹۶ ز کال وروسته د طالبانو له کلک ملاتړ څخه برخمه شوه.

کله چې د سپټمبر د ۱۱مې پېښه وشوه، نو القاعده شبکه د دغه برید مسووله وګڼل شوه او په همدې بهانه امریکا پر افغانستان یرغل وکړ. امریکا په افغانستان کې د طالبانو د حکومت پر نسکورولو سره په دغه هېواد کې د خونړۍ جګړې نوی باب پرانیست. پر امریکا د سپټمبر د ۱۱مې تر برید وروسته هم د اسامه بن لادن په افغانستان کې و او له همدې کبله د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر په ۲۰مه د امریکا د وخت ولسمشر جورج ډبلیو بوش طالبانو ته سپارښتنې وکړې، چې د القاعده شبکې ټول مشران دې امریکا ته وسپارل شي، له طالبانو سره ټول بهرني زندانیان دې خوشي او امریکا ته وسپارل شي، د القاعدې شبکې ټول روزنیز کمپونه دې وتړل شي او امریکا ته دې اجازه ورکړل شي چې په افغانستان کې د القاعده شبکې ټولو کمپونو ته لاسرسی ولري او هغه وپلټي.

خو په پاکستان د طالبانو مېشت سفارت اعلان وکړ چې متحده ایالتونه هېڅ داسې سند نه لري چې دا په ډاګه کړي چې اسامه په دغه برید کې لاس درلود. په پاکستان کې د طالبانو د وخت سفیر ملاعبدالسلام ضعیف وویل چې د طالبانو حکومت هغه وخت ډېره هڅه وکړه، چې په دغه حمله کې د اسامه د لاس لرلو په تور شواهد تر لاسه او دغه حقیقت په ډاګه کړي، خو امریکا پر افغانستان د برید له تصمیم څخه په شا نه شوه. د نوموړي په خبره، د سپټمبر د ۱۱مې پېښه ناخاپي نه وه، بلکې افغانستان له دې وړاندې په سیمه کې د خپلو اوږدمهاله موخو د تامین لپاره پر افغانستان د برید اراده درلوده. هغه ویلي چې طالبانو امریکا ته درې ځله وړاندیز وکړ چې اسامه به په افغانستان او یا کوم بل درېیم هېواد کې محاکمه کړو، خو له دې سره سره هم امریکا دغه وړاندیز رد کړ.

د اکتوبر په اوومه په افغانستان کې د امریکا هوایي بریدونه پیل شول او د همدې میاشتې په ۳۱مه د امریکا په ملاتړ شمال ټلوالې کابل ته ننوته او په دې سره د طالبانو حکومت نسکور شو. ورپسې د نومبر په ۲۵مه په بن کې د افغانستان په تړاو کنفرانس جوړ شو او د لسو ورځو په جریان کې د حامد کرزي په مشرۍ موقته اداره رامنځته شوه.

**د نړیوالو قوانینو له مخې پر افغانستان برید!**

د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته د ملګرونو ملتونو امنیت شورا په دوو پرېکړه لیکونو(۱۳۶۸ او ۱۳۷۳) کې خپل عکس العمل وښود.

په دغه پرېکړه لیکونو کې یوازې دغه تروریستي بریدونه غندل شوي وو، خو هېڅکله یې هم امریکا ته پر افغانستان د برید اجازه نه وه ورکړې. د امنیت شورا په ۱۳۷۳ شمېرې پرېکړه لیک کې تروریزم یوه نړیواله ستونزه یاده کړې وه او د افغانستان له خلکو سره یې پر مرستې ټینګار کاوه، خو په ۱۳۶۸م پرېکړه لیک کې یې د کابل او شاوخوا سیمو د امنیت د ټینګښت لپاره د ایساف ځواکونو د ځای پر ځای کولو لپاره اجازه ورکړې وه، البته دغه پرېکړه لیک د ۲۰۰۱ ز کال د ډسمبر په ۲۰مه چې د امریکا له برید څخه څو اونۍ تېرې شوې وې، صادر کړ.

د ملګرو ملتونو منشور چې د امریکا او نورو هم پیمانه هېوادونو له لوري تصویب شوی، وایي چې د ملګرو ملتونو ټول غړي باید خپلې بیانیې د سوله ییزو موخو لپاره مطرح کړي او د دغه پیمان هېڅ غړی پرته له دفاع څخه پر نورو د برید او له نظامي قوې څخه د استفادې اجازه نه لري. د دغه منشور په ۳۳مه ماده کې راغلي: «دواړه اړخونه د ټولو هغو اختلافونو په تړاو چې سوله او نړیوال امنیت له ګواښ سره مخ کوي، باید له هرڅه وړاندې د خبرو، منځګړیتوب، جوړښت او نړیوالو اصولو ته په پام له سوله ییزو لارو حل کړي»، خو امریکا د سپټمبر له یوولسمې وروسته د هر ډول سوله ییز حل دروازې وتړلې او پر افغانستان یې یرغل وکړ.

په ورته وخت کې د امریکا اساسي قانون هم دا په ډاګه کوي چې ټولې نړیوالې هوکړې او د هغې له ډلې د ملګرو ملتونو منشور چې د ټولو هېوادونو او امریکا له لوري تصویب شوی، په امریکا کې د اعلی قانون یو جز ګڼل کېږي.

له همدې کبله، د سپټمبر د ۱۱مې په برید کې هېڅ افغان لاس نه درلود او له بله اړخه متحده ایالتونو د دغه برید د تورنو په تړاو هېڅ ډول شواهد وړاندې نه کړل چې وښیي دوی په دغه برید کې لاس درلود. حتی تر دې چې تر نن پورې هم هېڅ داسې ثبوتونه نه دي وړاندې شوي چې په دغه برید کې د بن لادن لاس لرل په ډاګه کړي، په داسې حال کې چې کولن پاول یې هغه مهال د خپرېدو ژمنه کړې وه.

اوس پوښتنه دا ده چې امریکا ولې پر داسې یو هېواد برید وکړ چې د شواهدو د ورسپارلو په صورت کې د اسامه محاکمې ته حاضر و؟

د بوش حکومت د ملګرو ملتون د منشور د ۵۱مې مادې په بهانه چې هېوادونو ته له ځانه د دفاع حق ورکوي، پر افغانستان برید وکړ او دا چې هېڅ طالب او افغان د سپټمبر د ۱۱مې په برید کې لاس نه درلود او د شواهدو په صورت کې د اسامه محاکمې ته تیار وو، په دې مانا وو چې امریکا ته هغه مهال د طالبانو له لوري کوم ګواښ نه و متوجه.

**په هېواد کې د روانې جګړې مرګ ژوبله**

**د بهرنیو ځواکونو مرګ ژوبله**

له ۲۰۰۱ ز څخه تر ۲۰۰۴ ز کال پورې ائتلافي ځواکونو د راتلونکو کلونو په پرتله لږ مرګ ژوبله درلوده، خو له دې وروسته د دغو ځواکونو په مرګ ژوبله کې د پام وړ زیاتوالی راغی.

په ۲۰۰۴ ز کال کې د ائتلافي ځواکونو مرګ ژوبله ٦۰ ته ورسېده او له هغې وروسته په ۲۰۰۵، ۲۰۰٦، ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ ز کلونو کې په ترتیب سره ۱۲۹، ۱۹۳، ۲۲۸، ۲۹٦ ته لوړه شوه او په ۲۰۰۹ کال کې دغه مرګ ژوبله ۵۱٦ ته ورسېده.

**د افغان ځواکونو مرګ ژوبله**

افغان ځواکونو هم له ۲۰۰۲ ز کال څخه وروسته کله یې چې نوی پر فعالیت پیل وکړ، مرګ ژوبله درلوده. په ۲۰۰۷، ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ ز کلونو کې د افغان ځواکونو د وژل شویو سرتېرو شمېر په ترتیب سره ۹٦٦، ۹۸۳ او ۹۳۱ ته رسېده.

په ۲۰۱۰ ز کال کې چې جګړه په بې ساري ډول زیاته شوه، د افغان ځواکونو د وژل شویو سرتېرو شمېر ۲۱۱۳ ته ورسېد. خو له هغه وروسته که څه هم په ۲۰۱۱ ز کال د افغان ځواکونو تلفات ۱۰۸۰ وو، خو له هغه په وروسته کلونو کې د دغو ځواکونو مرګ ژوبله هم لوړه شوه.

په داسې حال کې چې په ۲۰۱۱ ز کال کې افغان ځواکونو ته د امنیتي ارګانونو د لېږد پروسه پیل شوه، له هغې وروسته د دوی په مرګ ژوبله کې هم د پام وړ زیاتوالی راغی.

په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ ز کلونو کې د افغان ځواکونو تلفات په ترتیب سره ۲۷٦۵ او ۴۳۵۰ وو. خو تر هغه وروسته د ملي یووالي حکومت څلور کلونه( ۲۰۱۴ – ۲۰۱۸ ز ) پورې د افغان ځواکونو لپاره تر ټولو خونړي کلونه وو. په دغو کلونو کې د ولسمشر غني په خبره ۴۵ زره امنیتي ځواکونه وژل شوي دي.

**ملکي مرګ ژوبله**

له ۲۰۰۱ ز کال را وروسته کله چې نړیوالو ځواکونو پر افغانستان برید وکړ، هغه مهال هم د ملکیانو مرګ ژوبله ډېره لوړه او ۲۳۷۵ ته رسېده. له هغې وروسته له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰٦ ز کلونو پورې ۲۴۲۲ ملکیان وژل شوي وو.

له هغې وروسته په ۲۰۰۷ ز کال یوناما په افغانستان کې د ملکي مرګ ژوبلې د شمېرو د ثبت لړۍ پیل کړه، خو په دغه ثبت کې یوازې هغه مرګ ژوبله ثبت کړې چې په اړه به یې کره شواهد وو.

دغه راز په دغه شمېرو کې هغه مرګ ژوبله چې د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې ملکیانو ته اوښتې او یا هم د بهرنیو ځواکونو له لوري ملکیان په نښه شوي، نه ده ثبت کړې، خو له دې سره سره، د یوناما د شمېرو له مخې له ۲۰۰۷ ز څخه تر ۲۰۱۸ ز کلونو په افغانستان کې ۳۲۰۰۰ ملکیان وژل شوي دي.

**د طالبانو مرګ ژوبله**

د براون پوهنتون د سروې له مخې، د افغانستان په ۱۸ کلنې جګړې کې له ۴۲ زرو زیات طالبان هم وژل شوي دي.

**افغانستان له ۱۸ کلونو وروسته!**

له ۱۹۹٦ څخه تر ۲۰۰۱ ز کلونو پورې افغانستان له یوه اړخه په نړیوالو سیاست کې د انزوا پر لور تللی و او د طالبانو حکومت یوازې د دریو هېوادونو له لوري په رسمیت پېژندل کېدو او له بل پلوه دغه هېواد په بد ښوونیز، اقتصادي او ټولنیز وضعیت کې و.

په ۲۰۰۱ ز کال کې د حامد کرزي په مشرۍ د موقت حکومت له جوړېدو وروسته، د افغانستان پر لور د بهرنیو مرستو جوپې روانې شوې، په ټول هېواد کې د بیارغونې چارې پیل شوې، د میلیونونو افغانانو لپاره د ښوونې زمینه برابره شوه او له سیاسي پلوه هم دغه هېواد د نړۍ له ۱۲۰ څخه د زیاتو هېوادونو سره خپلې ډیپلوماټیکې اړیکې جوړې کړې.

که څه هم ایساف ځواکونه په ۲۰۰۱ ز کال کې د سولې د تامین، له نشه یي توکو سره د مبارزې او له افغانستان سره د مرستې تر شعار لاندې دغه هېواد ته راننوتل، خو د دوی له حضور سره سم نه یوازې دا چې د افغانستان په امنیتي وضعیت کې ښه والی رانه غلو، بلکې ترڅنګ یې دغه هېواد د نشه یي توکو په تر ټولو ستر تولیدوونکي هېواد هم بدل شو چې اوسمهال د نړۍ نږدې ۹۰ سلنه نشه یي توکي تولیدوي. له نږدې یوې نیمې لسیزې وروسته هم دغه هېواد له ډېرو ستونزو سره مخ دی او د دغه هېواد امنیتي وضعیت تر بل هر وخت ترینګلی دی.

په ۲۰۱۵، ۲۰۱٦، ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ ز کلونو کې له ۳۰۰ زرو زیات افغانان له ډېرو خطرناکو لارو اروپا ته والړل او دغه راز په کور د ننه هم په لکونو نور کډوالۍ ته اړ شول.

تر دې ټولو مهمه دا چې د دغه هېواد امنیتي وضعیت ډېر خراب دی او هره ورځ نږدې ۱۰۰ تنه وژل کېږي. له یوه اړخه په دغه هېواد کې د تروریستي ډلو شمېر تر ۲۱ اوړي او له بل لوري له طالبانو سره د امریکا تېرې لس میاشتنۍ خبرې ناکامې شوې، راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې هم سر له اوسه له جدي ننګونو سره مخ دي.

# په هلمند کې وحشت او قتل عام؛

## د واده پر مراسمو هوايي بريد پنځوسو ملکيانو ته مرگ ژوبله اړولې ده



بهرنيو او افغان ځواکونو يو ځل بيا په هلمند ولايت کې وحشت تر سره کړی دی. بهرنيو او افغان ځواکونو په گډو عملياتو کې د هلمند په موسی کلا کې د واده پر مراسمو هوايي بريد کړی دی او تر پنځوسو پورې کسانو ته يې مرگ ژوبله اړولې ده. افغان امنيتي اداري دا مني چې په هلمند کې يې عمليات تر سره کړي دي، خو دا ادعا هم کوي چې وژل شوي د القاعده شبکې او وسله والو طالبانو غړي دي. بلخوا پر ټولنيزو رسنيو خپرې شوې ويډيوگانې او انځورونه ښيي چې وژل شوي ټول ملکي وگړي دي، چې تر ډېره ښځې او ماشومان پکې شامل دي. د هلمند د ولايتي شورا غړي هم وايي چې وژل شوي کسان ملکي وگړي دي.

په هېواد کې د رواني خونړۍ جگړې په دوام يو ځل بيا بهرنيو او کورنيو ځواکونو په هلمند کې شپني عمليات تر سره کړي او هوايي بريدونه يې کړي دي. تېره شپه د هلمند ولايت په موسی کلا ولسوالۍ کې بهرنيو او افغان ځواکونو وحشت تر سره کړی دی او لسگونه بېگناه ملکيان يې وژلي دي. امنيتي ځواکونه وايي چې عمليات پر طالب وسله والو تر سره شوي، خو عيني واقعيت بل څه دی. تېره شپه د هلمند په موسی کلا کې په يوه کلي کې د واده مراسم روان وو. چورلکو لومړی په سيمه کې سرتېري کښته کړي دي او تر هغه وروسته بې پيلوټه الوتکې سيمې ته رسېدلې دي. بې پيلوټه الوتکو هغه موټر په نښه کړی دی، چې ښځې او کوچنيان پکې سپاره وو. دوی د ناوې کور ته نکريزي وړلې، خو بهرنيو ځواکونو بريد وربانديې کړی دی او د ځايي خلکو په خبره لا هم د ځينو کسانو مړي لادرکه دي.

د موسی کلا اوسېدونکی حبيب الرحمن چې د تېرې شپې د وحشت شاهد و، وايي: ((د شپې لس بجې وې چې لومړی له چورلکو نه په سيمه کې کوماندو ځواکونه کښته شول او ورپسې د بې پيلوټه الوتکو ږغونه هم واورېدل شول)). دده په خبره، الوتکو تر څه ځنډ وروسته پر هغه موټر بريد وکړ، چې ښځې او کوچنيان پکې سپاره او د زوم کورته يې نکريزې وړې.

د هلمند د ولايتي شورا غړي وايي چې په پېښه کې څلوېښت ملکيان چې ښځې، ماشومان او سپين ږيري پکې شامل دي، وژل شوي دي. د ولايتي شورا يو غړی عبدالمجيد اخندزاده وايي، بهرنيو او افغان ځواکونو د موسی کلا په دوو سيمو کنجک او شواروز کې عمليات او هوايي بريدونه کړي، چې په هغه کې څلوېښت کسه ملکيان وژل شوي دي. نوموړی وايي: ((عمليات په دوو برخو کې تر سره شوي دي. خو څلوېښت کسه ملکيان دي، چې د واده په مراسمو کې سره راټول شوي وو. شپږ طالبان هم وژل شوي دي، خو ډېر ملکيان دي، غريب، بېچاره او دهقانان پکې وژل شوي دي)).

بلخوا رسنيو ته بيا ځينو سرچينو ويلي چې د پېښې له سيمې لس ټپيان هم لښکرگاه ښار ته لېږدول شوي دي. سرچينې وايي چې د ټپيانو له ډلې د ځينو روغتيايي وضعيت د اندېښنې وړ دی. د موسی کلا اوسېدونکو تر دې پېښې وروسته يو لاريون هم وکړ، چې په هغه کې يې د بهرنيو او کورنيو ځواکونو پر ضد شعارونه ورکول. دوی له حکومته وغوښتل چې دغه خونړۍ پېښه په جدي توگه وڅېړي او عاملين يې محاکمه کړي.

مرکزي حکومت بيا تر اوسه په دې اړه واضح ځواب رسنيو ته نه دی ويلی. امنيتي ادارې وايي چې دوی پر طالبانو او د القاعده شبکې پر غړو هوايي بريد کړی دی او دغه ډلې ته يې مرگ ژوبله اړولې ده. د هلمند رسنيز دفتر هم په يوه اعلاميه کې وايي، چې د ځانگړو ځواکونو عملياتو او بمبار کې د ٦ بهرنيانو په گډون، ۱۴ وسلوال وژل شوي دي. ملي دفاع وزارت بيا ويلي، چې د هلمند همدغو عملياتو کې افغان ځواکونو ۲۲ بهرني طالبان وژلي او ۱۴ نور يې نيولي دي.

له دې سره جوخت په ټولنيزو رسنيو کې دغه بريد په کلکو ټکو غندل شوی دی او پراخ غبرگون يې پارولی دی. د ټولنيزو رسنيو کارکوونکي، د نظر خاوندان او سياسي شنونکي د ملکي وگړو د ژوند په اړه د حکومت دغه بې پروايي او وحشت غندي او پر حکومت غږ کوي چې نور د افغانانو له قتل عام لاس واخلي.

ډېرو سياسيونو هم پر دغه خونړي بريد غبرگون ښودلی دی. پخواني ولسمشر حامد کرزي په يوه خبرپاڼه کې دغه بريد په کلکو ټکو غندلی دی او هغه يې وحشت، د افغانانو قتل عام او بشري جنايت بللی دی. نوموړي د جگړې پر ښکېلو خواوو غږ کړی چې نور دې دغه روان وحشت ته د پای ټکی کېږدي او روانه جگړه دې د خبرو له لارې سره حل کړي.

په هلمند کې داسې مهال يو ځل بيا ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوړي، چې په دې وروستيو کې په هېواد کې جگړې خونړۍ شوې دي او تر ډېره يې تلفات او زيانونه ملکي وگړو ته اوړي.

## شکايتونو کمېسيون: تر ټولو ډېر شکايتونه د حکومت دواړو شريکانو يو پر بل کړي دي

د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ويلي چې د ولسمشريزو ټاکنو په تړاو، تر ټولو ډېر شکايتونه د حکومت دواړو شريکانو يو پر بل کړي او له دغه کمېسيون سره يې ثبت کړي دي.

که څه هم ياد کمېسيون ويلي چې شوي شکايتونه به په بې پرې ډول وڅېړل شي، خو پر ټاکنو څارونکي بنسټونه د دغه بهير پر روڼوالي شکمن دي.

د دغه کمېسيون په خبره، د شکايتونو ډېره برخه په کمپاينونو کې د دولتي امکاناتو په کارولو پورې اړه لري، خو ځينو نوماندانو د شکايتونو کمېسيون چلند دوه گونی بللی چې له حکومتي شريکانو پرته نورو ټاکنيزو ډلو ته سم او پر وخت ځواب نه وايي.

د ټاکنيزو شکايتونو ارزوونکي کمېسيون ويلي، د کمپاينونو د قانوني مودې له ختمېدو ۸ ورځې مخکې، د ټاکنو ټولو ښکېلو اړخونو ٦٦ شکايتونه ورسره ثبت کړي دي. کمېسيون ويلي، ډېری شکايتونه د حکومت شريکو نوماندانو د محمد اشرف غني

او عبدالله عبدالله ټاکنيزو ډلو په تړاو دي، چې يو پر بل يې کړي دي. په خپله گټه د دولتي امکاناتو کارول، په کمپايني غونډو کې د دولتي چارواکو گډون او نور خپلمنځي تورونه د ثبت شويو شکايتونو مهمې بېلگې دي. د ټاکنيزو شکايتونو کمېشنر سيد قطب الدين رويدار بي بي سي ته ويلي، تر نيمايي زيات شکايتونه په کابل او پاتې يې په نور ولايتونو کې شوي دي.

هغه زياته کړې: «دوی ته مو سپارښتنې کړې، له دوی مو غوښتي چې ځانونه اصلاح کړي، جدي اخطارونه مو ور کړي، دوی مو مالي جرمانه کړي او تر ټولو سخته دا چې ځينې مو د رايه ورکولو له حقه محروم کړي. د قانون په چوکاټ کې زموږ پرېکړې بايد عملي شي او هېڅوک حق نه لري چې د پلي کېدو په مخ کې يې خنډ شي».

د دغه کمېسيون په خبره، د ثبت شويو شکايتونو له دريو دوې برخې يې ارزولې او په اړه يې پرېکړې شوې دي. په ورته وخت کې پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وايي چې د دغو شکايتونو د ارزونې په برخه کې پر روڼتيا باور نه لري.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو يا فيفا د بنسټ اجرايوي مشر يوسف رشيد ويلي، کمېسيون ته پکار ده چې چلند يې له ټولو سره يو ډول وي او هغه سرغړونې چې رسنيو ته نه وي راوتلې يا ولس پرې خبر نه وي، هم وڅېړي. نوموړي ويلي: «که د سرغړونو گراف ته وگورئ، ښايي کچه يې زياته وي، دا ښيي چې يو خو ډېر شکايتونه نه دي شوي او په دويم قدم کې په دې اړه د شکايتونو کمېسيون کړنې رڼې نه دي».

## شاهين: روسيې، چين او ايران د طالبانو له دريځه ملاتړ کړی دی



د طالبانو د قطر دفتر وياند سهيل شاهين ويلي چې روسيې، چين او ايران له امريکا سره د خبرو اترو په اړه د دوی له موقف څخه ملاتړ کړی دی.

نوموړي ويلي چې له چين څخه مخکې د روسيې او ايران حکومتونو په رسمي بلنه يې دغو هېوادونو ته هم سفرونه کړي او له اړوندو مسوولينو سره يې گټورې خبرې کړې دي.

شاهين زياته کړې، دا ډول سفرونه ډېر ارزښت لري، دوی خپل موقف د دغو هېوادونو له چارواکو سره شريکوي، وضاحت ورکوي او هغوی له هغو واقعيتونو خبروي، چې په دې وروستيو کې رامنځته شوي دي.

هغه ويلي: «موږ د دې سفرونو له لارې د دې هېوادونو ملاتړ راجلبوو او د همدې سفرونو له برکته زموږ موقف د روسيې او چين د ځانگړو استازو لخوا او د ايراني چارواکو لخوا يې ملاتړ او تاييد وشو».

د طالبانو دغه وياند ويلي، د دغو هېوادونو استازو منلې چې له امريکا سره شوې توافقنامه له امريکا د افغان شخړې د سوله ييز هواري لپاره يو ښه بنسټ دی.

دا په داسې حال کې ده چې دوې اونۍ مخکې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د يوه ټويټ له لارې له طالبانو سره رواني خبرې ودرولې.

سهيل شاهين زياته کړې، د ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د دوی پلاوي په بيجېنگ کې د روسيې له ځانگړي استازي سره ليدلي او د سولې په اړه پر وروستيو تحولاتو يې ورسره خبرې کړې دي.

د نوموړي په خبره، د چين له ځانگړي استازي ډېن شي جو او ورسره پلاوي سره په ليدنه کې په افغانستان کې د سولې د پروسې او له شوې توافقنامې د امريکا د شاتگ په باره کې د نظر تبادله شوې ده.

د نوموړي په خبره، د طالبانو د پلاوي مشر ملا برادر په دې ليدنه کې ويلي چې دوی د افغانستان د مسئلې د حل لپاره مذاکرات وکړل او يوې هر اړخيزې هوکړې ته ورسېدل، خو د امريکا ولسمشر له خپلې ژمنې واوښت .

# تر سعودي او امريکا وروسته؛

## برېټانيا ويلي چې ايران د سعودي عربستان د تېلو پر تاسيساتو د بريدونو مسوول دی

تر سعودي او امريکا وروسته برېټانيا هم ويلي چې ايران د سعودي عربستان د تېلو پر تاسيساتو د وروستيو بريدونو مسوول دی.

د برېټانيا لومړي وزير بورېس جانسن ويلي، برېټانيا دې پايلې ته رسېدلې چې ايران د سعودي عربستان د تېلو پر دوو سترو چاڼځايونو د سپټمبر د ۱۴مې د بريدونو مسوول دی او د امريکا په مشرۍ له هغو پوځي هڅو سره د يو ځای کېدو په اړه به غور وکړي، چې موخه يې د سعودي عربستان د دفاعي ځواک پياوړي کول دي.

جانسن خبريالاتو ته ويلي، چې برېټانيا به له خپلو متحدينو سره کار وکړي څو په منځني ختيځ کې روان کړکېچ کم شي.

د برېټانيا دغه محافظه کار لومړي وزير نه دي ويلي چې په دغو بريدونو کې د ايران د لاس لرلو په اړه کره شواهد لري او که نه، خو هغه خبريالانو ته په ثرگندونو کې ويلي چې د دې ډېر احتمال شته چې د بې پيلوټه الوتکو او کروز توغنديو په ذريعه دغه بريدونه ايران کړي وي.

که څه هم ايران تر دې مهاله په رسمي ډول د برېټانيا د لومړي وزير د دې ادعا په اړه عکس العمل نه دی ښودلی، خو له دې مخکې يې دا ډول تورونه په مکرر ډول رد کړي وو.

ايران دغه راز متحده ايالتونو ته خبرداری ورکړی چې پر دغه هېواد هر ډول بريد به لويه جگړه پيل کړي.

د ايران ولسمشر حسن روحاني ورمه ورځ وويل چې بهرني ځواکونه دې د فارس له خليجه ځان لرې وساتي او ټينگار يې وکړ چې د دوی حضور په سيمه کې د وسلو سيالۍ ته زمينه برابروي.

د روحاني له دې ثرگندونو يوه ورځ مخکې د ايران د سپاه پاسداران انقلاب ځواک يوه جگپوړي قوماندان ويلي وو، چې ځواکونو يې د جگړې تمرينونه تر سره کړي او د هر ډول جگړې سناريو ته تيار دي.

د امريکا متحده ايالتونو او سعودي عربستان پر دې سربېره چې د دغو بريدونو مسوول يې ايران بللی، دا هېواد يې تورن کړی چې په يمن او سوريه کې جگړه مخ ته وړي.

په ورته وخت کې امريکا هڅې پيل کړې چې په فارس خليج او هورمز تنگي کې د تېلو د کښتيو د آزاد تگ راتگ د خونديتوب مسئله يقيني کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ايران په دې وروستيو کې د برېټانيا د بيرغ لرونکې يوې کښتۍ په گډون، د سوداگرۍ څو کښتۍ نيولې دي.

د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سپټمبر په ۲۰مه اجازه ورکړه چې په سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو کې دې د امريکايي ځواکونو شمېر زيات شي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان


### څلورم څپرکی
### د وزیرستان جګړه




حقاني په ۱۹۹۰ز لسیزه کې هم د میرام شاه اډه ساتلې وه، هغه دا مهال د مجاهدینو په کابینه کې د عدلیې د وزیر په توګه دنده لرله. میرام شاه کې د هغوی پاکستاني جګړه مارو ډلو د روزنې کمپونه هم وو چې په کشمیر کې یې جګړه کوله. د روزنې دا لړۍ په افغانستان کې هغو سیمو ته هم وغځېده چېرې چې حقاني کنټرول لاره. په خوست ولایت کې د ژور کلي پر کمپ امریکایانو په ۱۹۹۸ز کال د مزایل بریدونه هم وکړل. دا بریدونه د القاعدې د هغو بریدونو په غبرګون وشول چې په افریقا کې یې پر امریکایي سفارتونو کړي وو، خو په دې بریدونو کې یوازې کشمیري او پاکستاني جنګیالي ووژل شول.
کله چې طالبانو کابل ونیو، حقاني د قومونو او قبایلو چارو وزیر شو، له دې سره یې نور هم په قبایلي سیمو کې د جنګیالیو موندلو او استخدام لپاره لاس خلاص شو. په وزیرستان کې اکثرو طالب مشرانو یا د هغه تر مشرۍ لاندې او یا خو هم د هغه پر مشوره فعالیت کاوه. له سویلي وزیرستان پرته له نورو ټولو پښتني سیمو د خیبر پښتونخوا له لویو ښارونو څخه د افغانستان په سویل ختیځ کې لویې پکتیا ته سفر کولای شو چې پکې پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونه ور ګډ دي. په افغانستان او پاکستان دواړو کې یې مرکزونو او سرچینو ته لاسرسی، اسانه کړی و چې له شمالي وزیرستان څخه د افغانستان په سویل ختیځو او ان کابل ته نږدې سیمو کې بریدونه وشي.
د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر ۱۱مې له بریدونو وروسته حقاني اسلام‌اباد ته ورسېد، هلته د پاکستاني نظامي حکومت له لوري غربي سفارتونو ته د منځلاري طالب په توګه معرفي شو. کله چې امریکایانو پر طالبانو بریدونه وکړل، حقاني د اوږدې جګړې اټکل وکړ. هغه یوې پاکستانۍ ورځپاڼې ته ویلي وو: ((که امریکایان او نور د افغانستان ښارونه و هم نیسي، نوی حکومت هم جوړ شي، موږ به یې ونه منو. موږ به غرونو ته وخېژو، څنګه چې د روسانو پر وړاندې وجنګېدو، همداسې به د کفارو پر وړاندې په پرلپسې ډول تر هغې چریکي جګړه وکړو څو پورې مو چې خپله خاروه تري ازاده کړې نه وي.))
کله چې د طالبانو رژیم ړنګ شو، حقاني میرام شاه ته لاړ. هغه نه و بریالی شوی چې د افغانستان له لنډمهاله ادارې سره چې حامد کرزي یې مشري، یوې هوکړې ته ورسېږي. حقاني شبکې کولای شوای چې القاعدې ته هم پناه ځایونه ورکړي او د هغوی د وتلو لپاره لارې ورته وښیي. امریکایانو غوښتل چې د اسلام باد په همکارۍ برید پرې وکړي، خو هغه ته مخکې له مخکې خبر ورکړل شوی و او تر برید وړاندې یې له خپل ځای څخه پښې سپکې کړې وې. په شمالي او جنوبي وزیرستان کې تر لومړیو جګړو وروسته جوته شوه چې په افغانستان او پاکستان دواړو کې د طالبانو په بیا را پورته کېدو کې حقاني شبکې مرکزي رول لوبوی شوای. دې شبکې په افغانستان کې د طالبانو د نوې جګړې لارې چارې پیل کړې او په وزیرستان کې یې پر طالبانو خورا اړین اغېز لاره. دې شبکې په ۲۰۰٦ز کال یو لارښود خپور کړ چې ځینې مادې یې په لاندې توګه دي:
۱. د افغانستان اسلامي امارت پرېکړه کړې چې د سویلي وزیرستان وزیر او محسود قومونه او د شمالي وزیرستان مجاهدین باید د مولوي جلال الدین حقاني امرونو ته غاړه کېږدي.
۲. ټول مجاهدین او قومندانان باید د اسلامي امارت اصولو ته غاړه کېږدي.
۳. د امارت پالیسي دا ده چې له پاکستان سره باید جګړه ونشي. ټول کورني او بهرني مجاهدین چې له اسلامي امارت سره یو ځای شوي، باید د پاکستان پر ضد جګړه ونه کړي، ځکه له دې کار څخه یوازې امریکایان ګټه اخیستی شي.
۴. د سویلي وزیرستان مجاهدین باید یو اقتصادي کمېسیون جوړ کړي. هغوی باید عواید را ټول کړي او د امارت په حساب کې یې جمع کړي. له هماغه ځایه به د امیر په امر اړمنو خلکو ته ورکول کېږي.
۵. د پرهېزګارو علماوو او اعتمادي خلکو یوه یوه کمېټه باید له زور او جبر پرته عواید راټول کړي. دا عواید باید مجاهدینو ته د اکمالاتو لپاره د امارت په حساب کې واچول شي.
٦. ګمارل شوي امیران باید خپلې دندې له دوه اړخیزو مشورو سره سمې مخکې یوسي.
۷. ټول مجاهدین باید د حضرت محمد ص مبارکه لار تعقیب کړي. هغوی باید له مجاهدینو سره نوو یو ځای کېدونکو کسانو ته ورته لاره وښیي. په دې کار سره به الله ج خوښ شي نو بریا به د مجاهدینو په نصیب کړي.
۸. د شمالي او جنوبي وزیرستان د وزیرو او محسودو قومونو له علماوو دې یوه مشورتي کمېټه جوړه شي چې د ستونزو په مخنیوي او د همغږۍ په چارو کې فعالیت وکړي.
۹. په وزیرستان کې باید ټول امیران همغږي مراعات کړي او د خپلو قومندانانو (حقانیانو) اوامرو ته غاړه کېږدي.
دا سند چې د وزیرستان د مجاهدینو لپاره لیکل شوی و، څرګندوله چې حقاني او د هغه پلویان د وزیرستان د اسلامي امارت مشران وو. دا ډول هڅې په پاکستان کې د یوه موازي دولت د جوړېدو په مانا وې. لا هم له حقاني سره د اړیکو لپاره اسلام‌اباد خاموش و. دا سند له هغه مخکې خپور شوی و چې د ۲۰۰٦ز کال په سپټمبر کې اسلام‌اباد د شمالي وزیرستان له جنګیالیو سره لومړی اوربند او بیا سوله وکړه. **دوام لري...**

# مولانا جلال الدين

شفیق امیرزی



مولانا جلال الدین په بلخ کې زیږېدلی دی. د نړۍ مشهور شاعر، صوفي او د لوړ انساني فکر لرونکی شخصیت تېر شوی دی. د هغه مکمل نوم محمد ابن احمد ابن حسین بلخي دی. د ژوند په اوږدو کې یې مولانا، مولوي رومي، مولوي او رومي ملا لقبونه ګټلي دي. په شعرونو کې یې خاموش او خموش تخلص هم کارولی دی.
د رومي نفوذ او شهرت تر قومي او جغرافیایي پولو اوښتی دی. هغه د ایرانیانو، تاجکانو، یونانیانو، پښتنو، ترکانو او د نړۍ د نورو مذهبونو او ملتونو ترمنځ ځانګړی شهرت او ځای ځایګی لري. په منځنۍ او جنوب شرقي اسیا کې د تېرو اوو پېړیو په اوږدو کې د مولانا اثارو او پنځونو خپل شهرت او اغېز لرلی دی. اثار یې د نړۍ ډېرو ژبو ته ژباړل شوي او د ژوند او پنځونو په اړه یې لسګونه اثار هم له چاپه راوتلي دي.
مولانا د هېواد په لرغوني ښار بلخ کې زیږېدلی دی. هغه د خپلو اثارو د تالیف پر مهال په قونیه کې اوسېده. د مولانا تر ټولو ډېر شعرونه په فارسي ژبه دي. د شمېرو له مخې هغه په فارسي ژبه ۷۰ زره بیته شعر ویلی دی، په عربي او یوناني یې هم شعرونه لیکلي. خو د هغه فکر په همدې یوه ژبه کې محدود نه دی. هغه د نړۍ د ټولو انساپالو فکري جریانونو، تصوفي جریانونو، بشرپاله جریانونو او مینه ییزو متونو د لوستونکو ترمنځ ځانګړی ځای او شهرت لري. د مولانا شعرونه له افغانستان بهر په ایران، ترکیه، پاکستان او مرکزي اسیا کې هم لوستل کېږي او تر ننه هم د ده پر متونو او اثارو څېړنې کېږي. پر ترکي ادب او فرهنګ د مولانا اغېز خورا زیات دی. ځکه دی هلته مېشت و، مریدان یې لرل، د ده په تصوفي کړۍ کې سلګونه ترکان شامل وو، نو پر ترکي ادب او فرهنګ یې اغېز خورا زیات و. د هغه ډېری مریدان او پلویان د قونیې ښار وو. مولانا پر خپله چارچاپېر باندې دومره اغېز کړی و، چې د قونیې په ډېرې کوڅو او بازارونو کې به خلکو فارسي ژبه ویله او د هغه شعرونه به یې زمزمه کول.
مولانا د ٦۰۴هـ ق کال د ربع الاول په شپږمه په بلخ کې زیږېدلی دی. پلار یې مولانا محمد حسین خطیبي نومېده چې به بهاوالدین سلطان العلما مشهور و. هغه د صوفیانو په کتار کې مشهور سړی و، عارف و او د امام احمد غزالي د پیروانو له ډلې و. په عرفان او تصوف کې یې ډېره مخینه لرله. هغه خاموش او چوپ سړی و، د بحث او مناقشو پلوی نه و، نو ځکه یې ډېر تمرکز پر باطني پاکۍ او سلوک کاوه. ده به مناقشات او بحثونه بې مانا کارونه بلل، کلامي او لفظي بحثونه یې د شخړو او اختلافونو سبب بلل، نو ځکه د بحثونو شوقیانو او مینه والو ورپسې را واخیسته. د دربار نږدې کسان چې د بحثونو او مناقشو شوقي ملایان وو، په سلطان العلما پسې را پاڅېدل او شاه یې د ده پر وړاندې ولمساوه. سلطان العلما په اغلب ګومان په ٦۱۰هـ ق کال کې له بلخ کډه وکړه او لوړه یې وکړه، تر هغه چې خوارزمشاه په بلخ کې حاکم وي، نو خپل وطن ته به نه راګرځي. په دې وخت کې چنګیزخان هم پر افغانستان حملې وکړې او ځینې ښارونه یې ونیول.
ویل کېږي چې مولانا دا وخت په خپله لار له فریدالدین عطار نشاپوري سره مخ شو. دی د حج په نیت، بغداد او بیا مکې ته لاړ. د حج د مناسکو تر ادا کولو وروسته شام ته لاړ. له شام وروسته قونیې ته ځي او په قونیه کې ژوند کوي. سطان العلما په ٦۲۸هـ ق کال کې له دې فاني نړۍ ځي او په قونیه کې خاورو ته سپارل کېږي. د پلار د مرګ پر مهال مولانا ۲۴ کلن و، نو د پلار مریدانو یې له ده وغوښتل چې د خپل پلار ځای ډک کړي. له همدې ځایه د مولانا عظمت او شهرت هم پیلېږي.
د مولانا نیکونه له لویې کورنۍ وو. دوی په بېلو وختونو او ځایونو کې په حکومتونو کې مطرح خلک وو. جلال الدین هم د خپلې کورنۍ له دې ځانګړنې اغېزمن و. مولانا د خپل پلار پر لاره ګام کېښود او د هغه د طریقت او تصوف رامنځ ته کړې کړۍ یې کلکه وساتله. مولانا ځوان و، خو پوهه او درک یې لوړ و. هغه د پلار مریدانو او خپلو استادانو ته درناوی درلود. تر ده وروسته د مولانا تصوفي طریقه په مولویه ونومول شوه. هغه په خپله تصوفي کړۍ کې شعر، سماع او ګډا هم ور زیات کړل. مولانا پر دې باور و، چې د حق تجلي په هر ځای کې کېدای شي. په دې مانا چې خدای انسان ته ارو مرو ځان ورښیي، خو دا چې چېرته او له کومې خوا؛ مرید باید هڅه پسې وکړي.
د پښتو ادبیاتو لیکوال او نقاد ډاکټر احسان درمل د مولانا په اړه لیکي: «دا عظیم عارف او شاعر که په فزیکي شکل په بلخ کې ځای نه شو، په معنوي شکل یې ټوله نړۍ تسخیر کړه. مولانا جلال الدین بلخي ته که د معنویاتو د نړۍ سکندر ووایو، شاید مبالغه به مو نه وي کړې؛ ځکه دی د نړۍ په یو څو هغو لویو شاعرانو او عارفانو کې حساب دی، چې له ختیځه تر لوېدیځه یې د زړونو او ذوقونو پر څمکه راج چلیږي. مولانا د ځینو لپاره صوفي، د ځینو لپاره عاشق، د ځینو لپاره شاعر او د ځینو لپاره فیلسوف او مفکر دی؛ که رښتیا ووایو هغه د عرفان، عشق، هنر او تفکر پر ټولو ساحو یو ډول راج کوي؛ خبره د لوستونکي د ذوق او دلچسپۍ ده، چې د مولانا له کوم اړخ سره یې لري؛ بس د ده خپله خبره ده، چې:

هر کسی از ظن خود شد یار من
از درون من نه جُست اسرار من

د مولانا جلال الدین بلخي شهکار اثر، مثنوي، په پېړیو پېړیو د دیني مدرسو د نصاب یوه لازمه برخه وه؛ څرنګه چې مثنوي د تفکر او هنر د امتزاج په پوله کې رازیږېدلې ده، ځکه نو د زیاترو پوهانو په نظر د پخوانیو ملایانو په نرمۍ او اخلاقي جوړښت کې د مثنوي او نورو پارسي نظمیه اثارو له اثره نه شو منکرېدلای. د مولانا وجود په اوومه هجري پېړۍ کې داسې و، لکه د بشر د فکر او عواطفو ولاړ خلیج ته چې لویه ډبره وروغورځېږي او موجونه یې د خلیج تر لرې څنډو پورې ورسیږي.
د بلخ د دې لوی عارف او شاعر هنر او تفکر پښتنو ته د مدرسې او ممبر له لارې رارسیدلی دی؛ د ده له نامه سره ډېر خلک د مدرسې د ملایانو او طالبانو له ژبې اشنا شوي دي، ځکه هغه ملایان چې په مدرسه کې یې نظم لوستی وي، د مولانا له اثره نه شي خلاصیدای او د دوی د تقریرونو او موعظو مالګه د مثنوي له نمکدانه وي. له بلې خوا پښتنو شاعرانو او لیکوالو هم په خپل وار د مولانا له اثارو او افکارو ګټه اخیستې ده».
مولانا د ډاکټر درمل د خبرې په اساس محدود پاتې نه شو. هغه په خپله تصوفي حلقه کې لوی انساني افکار وروزل او د بشریت د ودې او معنوي روزنې لپاره یې په رموزو او نغاړلو خبرو کې مهمې خبرې لرلې. هغه کایناتو، انساني فطرت، بشري ژوند، لوړ انساني فکر او ورته مواردو په اړه د پام وړ ویناوې او خبرې کړې دي. د مولانا اثار ډېر خلک لولي او ټول ترې خپل مراد حاصلوي، خو داسې کسان هم شته چې د هغه ځینو مسایلو ته د بدعت په سترګه ګوري. دا چې د مولانا د ژوند پر مهال تصوف ځانګړی رنګ درلود، نو دی هم د تصوف په کړیو کې د ځانګړي نوم او نښان خاوند و.
مولانا یوازې تر خپلو اثارو نه محدودېږي، بلکې د هغه د ژوند کیسې چې د مریدانو له خولې یې تر خلکو رسېدلې دي، خورا په زړه پورې او بشریت ته له پند او نصیحته ډکې دي.
د مولانا تر ټولو مشهور اثر مثنوي معنوي دی. دا شعري اثر ۲۷زره بیته دی او تر ډېره د مثنوي په فورم کې بیان شوي حکایتونه او انساني ژوند ته نصحیتونه دي. ډېر خلک بیا مثنوي معنوي په نړۍ کې تر ټولو ستر عرفاني شعري اثر بولي. دغه اثر په پښتو ژبه هم ژباړل شوی دی. مولانا دا کتاب په (بشنو از نی چون حکایت میکند، از جدایی ها شکایت میکند) بیت پیلوي. مثنوي معنوي د مولانا د ارزښتناک عمر تر ټولو مهم او لوی اثر بلل کېږي. هغه د مثنوي د لیکلو پر مهال خورا پوخ فکر درلود. دا مهال دی پنځوس کلن و. د دغه اثر یوازینی ارزښت دا نه دی چې تاریخي قدامت لري؛ بلکې انسان ته د رستکارۍ او اخلاص یو بې جوړې پیغام دی. د عرفاني برخې پوهان وایي، مثنوي نه یوازې نظري عرفان دی؛ بلکې د نظري او عملي عرفان یو ګډ رامنځ ته شوی اثر دی. مولانا پخپله هم وایي، مثنوي مې د دې لپاره نه دی ویلی چې هغه چېرته راځوړند کړي، بلکې دا دې تر پښو لاندې کېږدي او اسمانونو ته دې وخېژي. دا د حقایقو معراج دی، نه دا چې چترۍ ترې جوړه کړي او ښار په ښار یې وګرځوي. نو ویلی شو چې د مولانا عرفان یوازې د تفسیر عرفان نه؛ بلکې د تغیر عرفان هم دی. د شمس دیوان د مولانا بل مهم اثر دی چې د شمس تبریز په نامه یې نومولی دی. دې ته دیوان کبیر هم وایي، چې د مولانا په اثارو کې ډېر مینه وال لري. د مولانا رباعیات یې بل اثر دی. فیه ما فیه د مولانا بل ارزښتمن اثر دی چې په افغانستان کې د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتوز وزیر کریم خرم په لارښوونه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. مولانا د دې تر څنګ مهم او منل شوي نور اثار هم لري چې دلته یې له یادونې تېرېږو.
مولانا یوازې په افغانستان کې نه؛ بلکې په نړۍ کې د درناوي وړ شخصیت دی. یونسکو ۲۰۰۷ز کال د مولانا په نامه ونوماوه او هغه ته د مولانا کال وایي. ترکیه هر کال د دغه ستر شاعر کلیزه نمانځي او ځانګړي مراسم یې تر سره کوي. د هغه شعرونه لسګونو سندرغاړو کمپوز کړي دي او لا هم په تصوفي حلقو کې لوستل کېږي.
مولانا په ٦۷۲هـ ق کال کې ناروغۍ او تبې ونیو. تر یوې مودې له دې ناروغۍ کړېده، تر دې چې د همدې کال د جمادي الاخر په پنځمه د یکشنبې په مازدیګر له دې نړۍ وکوچید. په دې ورځ په ټوله قونیه کې د غم ټغر خور و. د ماشومانو، ځوانانو، سپین ږیرو، مسلمانانو، مسیحیانو او یهودیانو ډلې ډلې پلویان د ده د اوسېدو ځای ته راتلل او پر مړینه یې خواشیني وو. ویل کېږي چې څلوېښت شپې او ورځې د ده پر مړینه په قونیه کې ماتم خور و. هغه په قونیه کې خاورو ته وسپارل شو او نن هم دغه ښار د ده د مقبرې د موجودیت له امله د زرګونو سیلانیانو د کوربه توب جوګه دی.

همیانی

# په غونډو کې وینا کول

ژباړه: میوند خان تسل

ښايي ځينې وختونه په ځانګړو پروګرامونو کې د وينا بلنه درکړل شي؛ په دې ډول پروګرامو کې معمولاً ناوخته خبربرې او د چمتووالي وخت درسره لږ وي. په دې ډول غونډو کې ويناوې ښايي ستاسو او د نورو په ژوند کې ډېر رول ولري، نو بايد د دې ډول پروګرامونو لپاره چمتو اوسئ.

پنځه ډېر عام پروګرامونه چې غونډې پرې جوړېږي، عبارت دي له: ۱- د ډاليو وېش. ۲- د يوې مهمې پېښې له کبله تقدير يا معرفي. ۳- د زوکړې ورځې او کليزې. ۴- ودونه ۵- د مړي د خښولو مراسم. په دې ډول پروګرامونو کې بايد د ښې وينا کولو لپاره خپل ټول فن وکاروئ.

**۱- جايزه او مبارکي:** د خپلو خبرو په هکله فکر وکړئ او يادښت يې کړئ. د ډالۍ د مناسبت په هکله کره معلومات پيدا کړئ او ځان وپوهوئ چې ياد شخص کومه ځانګړې کړنه تر سره کړې چې جايزه ورکول کېږي.

ټول، په ځانګړې توګه د جايزې اخيستونکی ستاسو وينا ته ډېر متوجه وي. هر څومره مو چې په ياد سازمان کې دريځ مهم وي، په همغه کچه به مو وينا مهمه وي او د اوږدمهال لپاره به د خلکو په ذهنونو کې پاتې شي.

کله چې يو څوک د نورو کسانو په ځانګړې توګه د خپلو سيالانو په مخ کې ستايل او جايزه ورکول کېږي؛ په حقيقت کې يې دغه شېبې نه هېرېدونکې وي. کله چې په مهربانۍ، ځيرکتيا او د جايزه اخيستونکي شخص د تر سره شوي کار په ارزښت خبرې وکړی، کولی شی پر ياد شخص او ټولو هغو کسانو چې ستاسو وينا اوري، ښه اغېزه وکړی.

**۲- پېژندګلوي يا کوروداني:** ښايي غوښتنه درنه وشي چې په يوه عمومي ناسته يا خصوصي کتنه کې ويناوال معرفي کړی. دغه مسووليت جدي ونيسئ. ټول کسان تاسو ويني!

په ډېرى پروګرامونو کې وخت ته په پام سره او هغه پاملرنه چې د ويناوال پېژندګلوۍ ته کېږي، خپله پېژندګلوي له وينا ډېره ښه وي. ډېرى مديرانو چې خپل مشران او يا د خپلې سوداګرۍ اړوند مهم کسان په لوړه او ښه توګه معرفي کړي، په ډېرې تېزۍ سره يې پرمختګ کړی دی.

څو کاله وړاندې له ما غوښتنه وشوه چې د مخکيني ولسمشر جورج ډبليو بوش مېرمن لورا بوش يوې لويې غونډې ته معرفي کړم. ما يې معرفي ته ښه چمتووالی ونيو او داسې مې معرفي کړه، چې کله دريځ ته راتله؛ ټول ناست کسان په خپلو ځايونو کې ودرېدل او هغه يې په چک چکو بدرګه کړه. ولسمشر چې په غونډه کې حاضر و، له ناستې وروسته يې وستايلم. هېڅ وخت مې دا ورځ له ياده نه وځي.

له تاسو ښايي غوښتنه وشي چې تر وينا وروسته له ويناوال کوروداني او مننه وکړی. په دې حالاتو کې د ويناوال د وينا مهم ټکي درسره يادښت کړئ. کله چې دريځ ته د کورداني لپاره ودرېدلی؛ د وينا هغه برخه يې چې احساس کوی ډېره مهمه وه، په لنډو ټکو کې ووايئ، د بېلګې په ډول: ((له په زړه پورې وينا مو نړۍ مننه. ستاسو له خبرو موږ ټولو خوند واخيست. هغه څه چې ستاسو په وينا کې مې ډېر زيات خوښ شول....))

کله چې تاسو د ويناوالو پر وړاندې ښې خبرې کوی، خلک په ناخبره توګه فکر کوي چې تاسو د نورو په پرتله ډېر ځيرک، خوش بين او تکړه ياست. دغه موکه له لاسه مه ورکوئ.

**۳- زوکړې او کليزې:** دغه دوې پېښې د ډېرو خلکو په ژوند کې ډېرې اړينې دي. کله چې تاسو ته بلنه درکول کېږي څو وينا وکړی او يا چا ته د برياليتوب غوښتنه وکړی، دغه کار تر سره کړئ. له ياد شخص سره له وړاندې خبرې وکړئ او د ژوند په اړه ځينې پوښتنې ترې وکړئ. ښه ده چې د دوی په اړه له نورو کسانو هم وپوښتئ، څو د دوی په اړه ښې خبرې وکړی.

کله چې خبرې کوی، تل په انرژۍ خبرې وکړئ. د يادو کسانو په هکله د خبرو پر مهال له ټوکو ويولو ډډه وکړئ. دوی ته احساس ورکړئ چې د ځان په اړه ښه فکر وکړي. په دې توګه تاسو ټولو اورېدونکو ته احساس ورکوی چې د ځان په اړه ښه احساس ولري.

**۴- ودونه:** واده خپله د شخص او د ناوې او زوم د پلرونو او ميندو د ژوند له تر ټولو مهمو پېښو څخه دی. هغه موضوعات او جملې چې تاسو يې واياست؛ په کلونو کلونو به په ياد پاتې شي. خپله وينا مو په ډېر غور سره پلان کړئ. څو کاله وړاندې د يوې ډېرې ښې کورنۍ د واده مراسمو ته غوښتل شوی وم. دوی عادي کارکوونکي وو او عايد يې هم کم و. دوی له ۲۳ کلن مستري زوی وغوښتل چې د خپلې ۲۵ کلنې خور د واده په مراسمو کې وينا وکړي.

واده ډېر په زړه پورې و او ټول خوښ و، خنداګانې وې او د نوي زوم او ناوې په هکله به يې ټوکې جوړولې، مګر کله چې د ناوې ورور د خبرو کولو لپاره ودرېد، له ځنډ پرته څرګنده شوه چې دغه کار يې ډېر جدي نيولی. کله چې ده د خپلې خور په هکله وينا پيل کړه، ټول غلي شول. ده د ۱۵ دقيقو لپاره د خپلې خور او له مېږه سره يې د ګډ ژوند په هکله خبرې وکړې او په دې هکله يې وينا وکړه چې خور يې يوه ډېره ښه جينۍ ده. ده د مخکينيو کلونو کيسې وکړې او د ماشومتوب، له مور، پلار، وروڼو او خويندو سره يې د ګډ ژوند له خاطرو يادونه وکړه. کله يې چې وينا پای ته ورسوله او له ټولو رابلونکو يې غوښتنه وکړه چې د خور او خاوند د ښه ژوند په وياړ چکچکې وکړي، په تالار کې هېڅ وچې سترګې نه وې پاتې او ټولو ژړل.

کله چې په واده کې د وينا کولو لپاره بلنه درکول کېږي، د خپلو جملو په اړه فکر وکړئ چې تاريخي به وي. يوازې د مينې، عشق، ژمنتوب او د اوږد ژوند د خوندونو په اړه خبرې وکړئ. د ناوې او زوم لپاره د خوښۍ او نېکمرغۍ هيله وکړئ. ستاسو کليمې ډېر ارزښت لري.

۵- د خښولو مراسم: ښايي ځينې وخت له تاسو غوښتنه وشي چې د يو ملګري يا د کورنۍ د غړي په مړينه کې د هغوی په مدحه خبرې وکړئ. کله مو چې د دې کار د منلو لپاره غاړه کېښوده. ټوله وينا مو له وړاندې کليمه په کليمه وليکئ. دا کار د دوو لاملو لپاره وکړئ؛ لومړی؛ د ويلو پر مهال به تاسو کاملاً احساساتي شئ. که چېرې مو نه وي ليکلي، ښايي هر څه مو له ياده ووځي او خبرې مو په نيمايي کې پاتې شي. دويم؛ که چېرې مو په غور سره ليکلي وي، خلک به يې د کاپيو غوښتنه وکړي او د تل لپاره به يې له ځان سره وساتي.

کله چې د مړي مدحه لولی، هره کليمه په ډېرې آرامۍ ولولئ. ستاسو وينا بايد له ۸-۵ دقيقو زياته نه وي. ليکلې مدحه په دې سره پيل کړئ چې دغه مړی څومره ښه، مينه ناک، رښتينی او د نورو په غم کې شريک انسان و. ورپسې د مړي د کورنۍ او د غړو په هکله او دا چې ده/دې ته يې د کورنۍ غړو څومره ارزښت درلود، خبرې وکړئ. يو څه د ياد شخص د کارکړنو او مخينې په اړه وغږېږئ. خپلې خبرې مو د خواشينۍ څرګندولو په جملې سره پای ته ورسوئ؛ ده ته د جنت غوښتنه او پاتې کسانو ته يې د جميل صبر هيله وکړئ. د يو چا په مرګ کې وينا کول ستاسو د ژوند له مهمو ويناوو څخه ده. په غور سره يې پلان او چمتو کړئ.


د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

## د ټاکنو امنيت

د ټاکنو خپلواک کميسيون، د امنيتي بنسټونو سره په همغږۍ، د رای ورکونکو د رای ورکولو په ټولو مرکزونو کې کوټلي امنيتي ګامونه پورته کړي او د ټاکنو د ښه ترسره کولو له پاره يې امنيت ټينګ کړيدی. د رای ورکولو د مرکزونو د امنيت ټينګښت، د تقنيني اسنادو او تفاهم ليکونو له مخې د امنيتي ځواکونو په غاړه دی او امنيتي ځواکونه کولای شي د رای ورکولو په ټولو مرکزونو کې حضور ولري.

سيمه ييز تنظيمونکي او د رای ورکولو د مرکزونو چارواکي، د ټاکنو پر ورځ دنده لري چې د رای ورکولو په مرکزونو کې نظم او سمون راولي، د ټاکنو کارکونکي، رای ورکونکي، څارونکي، کتونکي او ځانګړي ميلمانه د رای ورکولو په خاصو محلونو کې دنده لري چې د رای ورکولو په مرکزونو کې د سيمه ييزو ناظمانو او د رای ورکولو د مرکزونو د مسوولينو پريکړې په پام کې ونيسي.
د رای ورکولو په مرکزونو کې د حضور پر مهال بايد دغه ضروري ټکو ته پاملرنه وشي:

- د امنيتي چارواکو پرته، هيڅوک نه شي کولای وسلې يا داسې نور څيزونه چې د وسلو په بڼه وکارېږي د رای ورکولو مرکزونو ته له ځانه سره يوسي، آن تر دې چې د رای ورکولو په ۱۰۰ مترۍ کې هم د وسلو ګرځول منع دي.
- امنيتي چارواکي کولای شي د رای ورکولو په مرکزونو کې د نظم او ښه امنيت د ټينګښت له پاره يا د څارونکو او د رای ورکولو د مرکزونو د چارواکو په غوښتنه د رای ورکولو مرکزونو ته د ننه شي او د نظم او امنيت د ټينګښت وروسته دې ډير ژر له هغې سيمې ووځي.

امنيتي مسولين بايد:

- د رای ورکولو د مرکزونو د باندې دې امنيت ټينګ کړي.
- د رای ورکولو په مرکزونو د ننه دې د بې نظميو او ګډوډيو مخه ونيسي.
- د مرکزونو يا د رای ورکولو د محلونو د مسولينو په غوښتنه دې د رای ورکولو د ننه د نظم په ټينګښت کې مرسته وکړي.
- د رای ورکولو مرکز د مسوول په غوښتنه دې، هغه څوک چې د رای ورکولو په مرکز کې ګډوډي جوړوي هغه دې د رای ورکولو له مرکزه د باندې وباسي.
- د رای ورکولو د محل د ريس په غوښتنه دې د ټاکنيزو توکو امنيت ټينګ وساتي.

لومړۍ يادونه: د کورنيو چارو وزارت دې هغه امنيتی مسوولين چې د ټاکنو د تګلارو په برخو کې يې روزنه ليدلې بايد د ټاکنو پر ورځ د رای ورکولو په مرکزونو کې وګوماري.
دويمه يادونه: د ملي پوځ ځواکونه هم کولای شي چې د رای ورکولو د مرکزونو د امنيت په ټينګښت کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون سره مرسته وکړي.
دريمه يادونه: نړيوال ځواکونه هم کولای شي چې په ترينګليو حالاتو کې د رای کولو بهير د امنيت په ټينګښت کې همکاري وکړي.

د لا زياتو معلوماتو د تر لاسه کولو له پاره ۱۹۰ شميرې ته زنګ ووهئ.
ستاسو رايه، ستاسو راتلونکي

معلوماتي پاڼه ٤

www.iec.org.af AfghanistanIEC


## عمران خان له خليلزاد سره په واشنګټن کې پر افغان سولې خبرې کړې دي

د پاکستان لومړي وزير عمران خان او د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد په واشنګټن کې د افغان سولې په تړاو خبرې کړې دي.

د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي په ټويټر ليکلي، چې خليلزاد له طالبانو سره د خپلو ۱۱ مياشتنيو خبرو اترو ټول معلومات په تفصيل سره شريک کړي دي.

هغه زياته کړې، خليلزاد د سولې په اړه د راتلونکو پلانونو او هيلو په اړه هم له عمران خان سره خبرې کړې دي.

قريشي ويلي، عمران خان په دې ليدنه کې يو ځل بيا په افغانستان کې د خپل هېواد له لوري د هر ډول مرستې او همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

عمران خان زياته کړې، د افغانستان سوله او ثبات د ټولې سيمې د ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره اړين دي، خو د دې ليدنې نور جزيات نه دي په ډاګه شوي. د يادونې ده چې په قطر کې د طالبانو او امريکا ترمنځ د افغان سولې په تړاو خبرې اترې چې له تېرو ۱۱ مياشتو راهيسې روانې او يوې هوکړې ته نږدې شوې وې، نږدې درې اونۍ مخکې ناڅاپه د ډونالډ ټرمپ لخوا وځنډول شوې.

ټرمپ دغه کار وروسته له هغې وکړ، چې په کابل کې د يوه ځانمرګي بريد په پايله کې د يوه امريکايي په ګډون، دوه د ناټو سرتېري او ۱۰ افغانان ووژل شول.

هغه ويلي وو، طالبانو له دا ډول کړنو سره غوښتل چې په مذاکراتو کې امتياز تر لاسه کړي. خو طالبانو ويلي چې ټرمپ دا هسې بهانه نيولې، په افغانستان کې خو امنيتي پېښې ډېرې رامنځته کېږي او له امريکا يې غوښتي چې دا خبرې بيا له سره پيل کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۰ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹٦,۹۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| Kam Air | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| flydubai | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439


مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اپمل خان، نذير احمد سهار او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې دویمه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر ۲۴مه | ۴۳۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳٤ | ۳٤ | ۳۳ | ۳٦ | ۳۲ |
| ۱٦ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۰ | ۲۵ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۹ | لمر ختل ۰۵:٤۱ | ماسپښین ۱۱:٤۷ | مازدیگر ۰۳:۱۳ | ماښام ۰۵:۵۰ | ماخوستن ۰۷:۱٤

## نړۍ




## مادورو: امریکا د وینزویلا د ۲۰۲۰ ز کال په پارلماني ټاکنو کې د لاسوهنې هڅه کوي



د وینزویلا ولسمشر نیکولاس مادورو ویلي، امریکا هڅه کوي چې د دغه هېواد د ۲۰۲۰ ز کال په پارلماني ټاکنو کې لاسوهنه وکړي.

هغه زیاته کړې: « پر نړیوالې ټولنې یو ځل بیا غږ کوم چې د امریکا اوسنی حکومت د خپلو ورانکارو سیاستونو په دوام هڅه کوي چې د ۲۰۲۰ ز کال په ټاکنو کې لاسوهنه وکړي».

نوموړي خبرداری ورکړی چې هېچا ته به اجازه ورنه کړي چې په دغو ټاکنو کې لاسوهنه وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې د وینزویلا پارلماني ټاکنې د ۲۰۲۰ ز کال په ډسمبر کې وشي.

هغه دغه راز زیاته کړې چې ښايي له خپل امریکایي سیال ډونالډ ټرمپ سره هم مستقیمې خبرې وکړي، خو نوموړي د دغې ناستې د ځای او وخت په تړاو نور جزیات نه دي ورکړي.

هغه د یوې پوښتنې په ځواب کې چې ایا له ټرمپ سره به مخامخ وگوري، ویلي: «زه تیار یم چې له هغه (ټرمپ) سره مخامخ خبرې هم وکړم، ما تل د روان کړکېچ پر سوله ییز حل ټینگار کړی، خو له بده مرغه چې نورو زموږ له دغه سیاسته ناوړه گټه اخیستې ده».

هغه دغه راز زیاته کړې چې که د ټرمپ په مشرۍ د امریکا حکومت له خپل اوسني ناکام سیاسته په شا شي، حاضر دی چې له دغه هېواد سره ترینگلې اړیکې بېرته ورغوي.

## د مصر امنیتي ځواکونو په سینا ټاپو کې د لواء الثورة په نوم ډلې ۲۴ جنگیالي وژلي دي



د مصر امنیتي چارواکو ویلي چې د دغه هېواد په شمال کې پرتې سینا ټاپو کې له امنیتي ځواکونو سره په نښتو کې د «لواء الثورة» په نوم تروریستي ډلې ۱۵ جنگیالي وژل شوي دي.

د دغه هېواد یوه لوړپوړي امنیتي چارواکي سکای نیوز عربي اژانس ته د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې دغه نښته د سینا ټاپو په العریش ښار کې شوې ده.

هغه زیاته کړې چې دغه نښته وروسته له هغې رامنځته شوې، کله چې امنیتي ځواکونه په سیمه کې پر گزمه بوخت وو.

د سرچینې په خبره، له نښتې وروسته په سیمه کې د ترهگرو له یوه پټنځایه لسگونه میله وسلې او چاودېدونکي توکي هم تر لاسه شوي دي.

سرچینه کاږي چې په پېښه کې د مصر دوه امنیتي سرتېري وژل شوي او پنځه نور ټپیان دي.

په ورته وخت کې د مصر د کورنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې په یوه بله پېښه کې امنیتي ځواکونو په العبور ښار کې نهه ترهگر وژلي دي.

په اعلامیه کې راغلي چې په دغه نښته کې د «لواء الثورة» په نوم د یوې ترهگرې ډلې مشر محمود غریب قاسم هم وژل شوی دی.

## سیاسیون: انتخابات در اوضاع کنونی بحران‌آفرین است



حامد کرزی رئیس جمهور پیشین در نشستی با رهبران جهادی و شهروندان کشور خواهان متوقف شدن تلاش ها از بهر برگذاری انتخابات ریاست جمهوری شده است.

در یک اعلامیه دفتر رئیس جمهور پیشین آمده است که انتخابات پیش رو، افغانستان را به سوی یک بحران عمیق سیاسی و اجتماعی خواهد کشاند.

در تصویرهایی که از این نشست گرفته شده اند شماری از چهره‌های سیاسی و جهادی کشور، از آن میان، یونس قانونی، محمد اسماعیل خان، عطامحمد نور، رنگین دادفر سپنتا و همچنان آغاجان معتصم عضو پیشین گروه طالبان، دیده می شوند.

در این اعلامیه آمده است که در شرایط کنونی، سازماندهی انتخاباتی که مردم افغانستان آن را رهبری نمی‌کنند و پیش‌شرط‌های ابراز آزاد اراده مردم وجود ندارد، انتخابات کشور ما را به سوی یک بحران عمیق‌تر سیاسی و اجتماعی کشانده و به داعیه‌صلح هم نمی‌تواند کمک کند.


به گفتهٔ این اعلامیه، اوضاع امنیتی جاری، عدم کنترل حکومت بر بخش‌های مهمی افغانستان و عملاً نبودن زمینه مشارکت عینی برای تعداد زیادی از مردم نشان از عدم برگزاری انتخابات عمومی و افغانستان شمول است.

در اعلامیه آمده است که نبود اعتماد وسیع مردم افغانستان به مجریان و سازمان‌دهندگان انتخابات ریاست جمهوری و باور عمیق مردم به مهندسی گسترده انتخابات مزید بر علت است. از این‌رو مردم افغانستان با دلسردی و نگرانی جدی به انتخابات پیش‌رو می‌نگرند و ما هم در این نگرانی با مردم خود عمیقاً شریک استیم.

بر اساس این اعلامیه، واقعیت‌های بسیاری نشان می‌دهند که این انتخابات نه تنها موجب کاهش بحران در کشور ما نشده، بلکه خود موجب بحران مضاعف، تفرقه بیشتر میان مردم و تضعیف نهادها و کاهش بیشتر اعتماد به دموکراسی و مشارکت سیاسی می‌شود. این جمع نمی‌تواند مسئولیت چنین امری را بر عهده بگیرد.

## ژوند

## اندېښنه مه کوه، خلک تر تا ډېرې ستونزې لري




په پر له پسې ډول په ذهن کې د ستونزو تکرار ستونزه نه شي حل کولی، بلکې اوضاع لا خرابوي. منفي فکرونه مو چې په ذهن کې گرځي راگرځي، باید له ذهنه یې وباسئ او دا ډول فکر وکړئ: خدای پاک ټول کاینات د انسان د هوساینې لپاره پیدا کړي، شپه او ورځ د دې لپاره راځي چې انسان ترې گټه واخلي او ټول کاینات په خپله گټه وکاروي. نن چې زه په کومه ستونزه کې راگیر یم، کېدای شي خلک له دې هم په سختو ستونزو کې وي. دا هرڅه به تېر شي او په پوره بریا به ترې ووځم. دا ډېر ښه فکر دی. کله چې دغه ډول فکر کوی، تاسې به یو ډول ډاډ حاصلوی او زړه مو سکون پیدا کوي. هیله منو کسانو دا درک کړې وي چې هرڅه زموږ له ذهنه سرچینه اخلي. د یوه کس په اړه کیسه کوي چې هغه له ډېرو ستونزو سره مخ شو، کښتۍ یې ډوبه شوه، زندان ته ولوېد او هلته پرې بد حالات راغلل، خو بیا یې هم پر دغو ستونزو تمرکز نه کاوه، هغه په دې اړه هېڅ فکر نه کاوه چې ستونزې یې څومره سختې دي، دغه څه ته یې په ذهن کې ځای نه ورکاوه. هغه به ویل، زه د خدای پاک (ج) شکر باسم چې تل یې راباندې خپله مهرباني لورولې ده. ویل به یې، زه له یوه اتل څخه هم ښه یم. د هغه ذهن له مثبتې انرژۍ، هیلې، ایمان او بریا څخه ډک و. ویل به یې، کېدای شي بد درته ښکاره شم، خو تل پر دې فکر کوم چې څه ډول خوشاله اوسېدلی شم.

## د چغندر خوراک مو د سرطان له ناروغۍ ژغوري



چغندر چې د افغانستان په عمده کرنیزو محصولاتو کې راځي، له ښه خوند او رنگ سره سره، د روغتیا لپاره هم ډېرې گټې لري. چغندر د ویټامین A، B1، B2، B3 پر درلودلو سربېره، معدني مواد لکه کلسیم او اوسپنه هم لري. څېړنو ثابته کړې چې د چغندرو خوړل د زړه د ناروغیو مخه نیسي چې نن سبا په نړۍ کې تر ټولو خطرناکه ناروغي بلل کیږي. څېړنو ښودلې چې د چغندرو خوړل کولی شي د وینې د لوړ فشار مخه ونیسي او ډاکټران یې د یوه ښه او بې ضرره خوراکي توکي په توگه ناروغانو ته توصیه کوي. طبي څېړنو دا هم ثابته کړې چې چغندر په لوړه کچه د سرطان له ناروغۍ مخنیوی کوي او د دې کورنۍ ټول بوټي لکه، کرفس، کاهو، شاهي، موشک او د چغندر پاڼې کولی شي د وینې د لوړ فشار مخنیوی وکړي. د فېزیولوژۍ استاد اندرو جونز وايي، په چغندرو کې شته نایټرېټ په بدن کې په نایټرېټ اسیدو بدلېږي چې کولی شي د وینې رگونه پراخ کړي او په اسانۍ سره د بدن ټولو غړو ته په وخت وینه ورسوي.